# القصص

**مکی سورة دی ۸۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓمٓ ﴿١﴾

**طا، سین، میم( په حقیقی معنی یې الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾

**دا د( با عظمته) روښانه کتاب آیتونه دی، (چې دنیوی او اخروی نیکمرغی پکې نغښتي، او د حق او باطل څرګندوونکی دی).**

نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرۡعَوۡنَ بِٱلۡحَقِّ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٣﴾

**( ای پیغمبره!) مونږ تاته د موسی او فرعون د داستان یوه برخه اوروو، چې د ایمان راوړونکو لپاره پکې د عبرت درس پروت دی.**

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤﴾

**بیشکه چې فرعون ( د مصر) په ځمکه کې د تکبر او سرکشی اعلان وکړ، او خلک یې په ډلو ټپلو وویشل. یوه ډله( یعنې بنی اسرائیل) یې کمزوری کول او توهینول، زامن به یې تر یې وژل او نجونی به یې تر یې( د خپل بیګار لپاره ژوندۍ ساتلې( تر څو د بنی اسرائیلو نسل ورک شی او هغه ماشوم ژوندی پاتې نشی چه د کاهنانو د پیشګویی په اساس به د فرعونی سلطنت د سقوط عامل کیږی). یقیناً چې فرعون یو لوی مفسد( او جنایتکار) و.**

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ
أَيِمَّةً وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥

او زمونږ اراده دا وه چې د هغه هیواد په مظلومانو خپل نعمتونه ولوروو، رهبری او امامت ورکړو، او هم یې (د فرعونانو د ځمکو او شتمنیو) وارثان وټاکو.

وَنُمَكِّنَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنُرِيَ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَحۡذَرُونَ ٦

او د هغوی لپاره، په هغه هیواد کې د قدرت او حکومت زمینه برابره کړو، او فرعون او هامان او لښکرو ته یې هغه انقلاب وروښایو چې دوی ترې ویریدل( یعنی د فرعونی سلطنت سقوط او د بې وسو او مستضعفو بنی اسرائیلو د اقتدار تأسیس او ټینګښت).

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَرۡضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَأَلۡقِيهِ فِي
ٱلۡيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيۡكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ
ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧

او د موسی د مور زړه ته مو الهام وکړ چې هغه ته (پرله پسې) شیدې ورکوه، خو کله چې( د فرعونیانو له لوری درته د هغه د وژلو) ویره او تهدید پیښ شي، بې له تردد او اندیښنې یې په یوه صندوق کې،( د نیل) په سیند کې لاهو کړه، او(له ډوبیدو یې) مه ویرېږه او (په بیلتون یې) مه غمژنه کیږه، مونږ یې بیرته تاته سپارو او بیا ورته نبوت هم ورکوو.

فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُونَ لَهُمۡ عَدُوّٗا وَحَزَنًاۗ إِنَّ فِرۡعَوۡنَ
وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُواْ خَٰطِـِٔينَ ٨

مور یې( د الهی الهام سره سم) هغه سیند ته وغورځاوه، چې د اوبو د جریان له مخې یې صندوق د فرعون په باغ ورننوت، او د فرعون کورنی له اوبو راوویست، ترڅو ورته دښمن او د غم عامل شی. بیشکه چې فرعون، هامان او لښکریان یې مفسدان او تخریب کاران وو.

وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّى وَلَكَ ۖ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن
يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ٩

او د قصر لومړۍ میرمنې، فرعون ته سپارښتنه وکړه چې دا (ماشوم) مه وژنه، دی به زما او ستا لپاره د خوښۍ او نیکمرغۍ وسیله شی، مونږ ته به یې ګټه ورسی او یا به یې په زوی والی ونیسو، خو( په دې) نه پوهیدل( چه خپل دښمن پخپله غیږ کې روزی).

وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا ۖ إِن كَادَتْ لَتُبْدِى بِهِۦ لَوْلَآ أَن
رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ١٠

او د موسی د مور زړه( د خپل زوی په بیلتون کې، له صبر او ثبات نه) کاملاً خالی و( او په غم او اضطراب کې ډوبه وه). مونږ ( پخپله خاصه مهربانۍ) د هغې په زړه د ثبات او اطمینان پټۍ کیښودې، چې باید( زمونږ د وعدې په تحقق) پوره باور ولری،که نه، ټول راز به یې افشا کړی و.

وَقَالَتْ لِأُخْتِهِۦ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا
يَشْعُرُونَ ١١

او د موسی خور ته یې وویل: د هغه حال احوال واخله، نو خور یې له لیرې څاره چې د فرعونیانو په غیږ کې و، خو د فرعون کورنی( د هغې په تعقیبولو) نه پوهیده.

۞ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ
يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ١٢

او مونږ لا وړاندې ټولې دایی ګانې له هغه منع کړې وې( چې د هیڅ یوې تی ته خوله ورنه وړی، نو خور یې وړاندې ورغله او) ویې ویل: که مو خوښه وی، داسې کورنی به درته راولم چې ستاسو لپاره په مینه او ښیګڼه د دې ماشوم پالنه وکړی.

فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ
وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

**په دې توګه مو، هغه بيرته د خپلې مور غيږې ته راستون کړ، تر څو يې غم او انديښنه په خوښۍ او اطمينان بدله شی، او په دې وپوهيږی چې د الله تعالی وعده خامخا حقه او پوره کيدونکې ده، خو زياتره( بې بصيرته خلک په دې حقيقت) نه پوهيږی.**

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى
ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾

**نو کله چه موسی د خپل رشد او ځلميتوب عمر ته ورسيد، مونږ ورته ځانګړې پوهه او استعداد ورکړ، او په همدې توګه په ټولو لايقو او استعداد لرونکو نيکانو باندې د خپل فضل او مرحمت پيرزوينه کوو.**

وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ
يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن
شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ
عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

**او موسی په داسې وخت کې د (مصر) ښار ته ننوت چې( په ټول ښار چوپه چوپتيا خپره وه او) ښاريان د غفلت په خوب ويده وو. دوه تنه يې وليدل چې پخپلو کې سره په جګړه اخته دی. يو يې( سبطی اسرائيلی) د موسی پيرو، او دا بل يې( قبطی) د دښمنانو له ډلې و. اسرائيلی له موسی څخه د دښمن په ضد مرسته وغوښته او موسی هم په يوه سوک سره د هغه دښمن وواژه. ( خو د دغه غير عمدی قتل له امله سخت خواشينی شو او) ويې ويل: بيشکه چې دا د شيطان کار و، او شيطان( د انسان) ښکاره دښمن او بې لارې کوونکی دی.**

قَالَ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى فَٱغْفِرْ لِى فَغَفَرَ لَهُۥٓ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾

( بیا یې الله تعالی ته د دعا لاسونه پورته کړل او) ویې ویل:ای ربه( ما په دغه سهوی قتل سره) پخپل ځان ظلم وکړ، ماته بښنه وکړه،نو الله تعالی هم ورته بښنه وکړه بیشکه چې هغه بښونکی او مهربان ذات دی.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧

( موسی)وویل: ای ربه ستا د دې نعمت په بدل کې چې (هم دې ماته عزت ، راحت او قوت راکړی او هم دې راته بښنه وکړه) زه به هیڅکله هم د مجرمینو او ګناهکارانو ملاتړ و نه کړم.

فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ
يَسۡتَصۡرِخُهُۥۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ ١٨

( موسی دغه شپه) په ښار کې په ویره او اندیښنو کې تیره کړه، سهار په داسې حال کې چې( د پېښې عواقبو ته) په انتظار و، ویې لیدل چې هماغه سړی چې پرون یې له ده مرسته غوښتې وه،( له بل سړی سره نښتی) او بیا موسی ته د مرستې چیغې وهی، موسی ورته وویل: ته بیخي بې لارې یې( چې پرون دې راپاندې یو تن وواژه او نن بیا له بل سره نښتی یې).

فَلَمَّآ أَنۡ أَرَادَ أَن يَبۡطِشَ بِٱلَّذِي هُوَ عَدُوّٞ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن
تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسَۢا بِٱلۡأَمۡسِۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٩

کله چې یې اراده وکړه له هغه قبطی سړی سره چې د دوی دواړو دښمن و، لاس واچوی، هغه ورته وویل: ای موسی غواړې ما هم ووژنې لکه پرون چې دې یو تن وواژه. ته غواړې په دې خاوره کې د باغی او سرکش په حیث ژوند وکړې، او نه غواړې چې د یوه نیک او مصلح انسان په حیث یاد شې.

وَجَآءَ رَجُلٞ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلۡمَلَأَ يَأۡتَمِرُونَ
بِكَ لِيَقۡتُلُوكَ فَٱخۡرُجۡ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢٠

او یو سړی د ښار له کومې لیرې سیمې نه په منډه او وارخطا یې راغی او موسی ته یې وویل چې فرعونی چارواکی ستا د وژلو په باب په بحث او مشورو بوخت دی، نو زما نیکه مشوره درته داده چې له ښاره ووځه.

فَخَرَجَ مِنۡهَا خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢١

موسی( چې سختو عواقبو ته هم) منتظر و، د تشویش او اندیښنې په حال کې له ښاره ووت، او دعا یې کوله چې ای ربه له دې ظالمانو مې وژغوره.

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلۡقَآءَ مَدۡيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهۡدِيَنِي سَوَآءَ
ٱلسَّبِيلِ ٢٢

کله چې موسی( له مصر نه د هجرت په نیت) د مدین په لور روان شو، هیڅ لاره او طرف ورته معلوم نه و( خو په الهی مرسته باورمن و) او ویل یې چې رب به مې راته یوه ښه لاره سمه کړی.

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ وَجَدَ عَلَيۡهِ أُمَّةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسۡقُونَ
وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمۡرَأَتَيۡنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَاۖ قَالَتَا لَا
نَسۡقِي حَتَّىٰ يُصۡدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيۡخٞ كَبِيرٞ ٢٣

بیا چې( له لس ورځې سفر نه وروسته وږی تږی) د مدین اوبو ته ورسید، یوه ډله خلک یې ولیدل چې خپل څاروی اوبه کوی، خو لږ اخوا ترې دوه باحجابه ښځې دی چې خپلې ګډې ( د خلکو له ګڼې ګوڼې) را منع کوی . موسی علیه السلام ترې پوښتنه وکړه چې ولې خپل څاروی نه اوبه کوی. هغوی وویل : ترڅو شپانه لاړ نشی، مونږ خپلې ګډې نشو اوبه کولی او پلار مو هم سپین ګیری دی( او خپل څاروی دلته نشی راوستی).

فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ
فَقِيرٞ ٢٤

نو موسی( د مرستې په توګه) د هغوی څاروی په اوبو ماړه کړل او بیا یوه سیوری ته کیناست او دعا یې وکړه: ای زما ربه! ستا هرې مناسبې مرستې ته چې ماته یې نازلوې اړ او محتاج یم.

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ
لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ
قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾

( شیبه لا نه وه تیره چې له هماغو دوو ښځو څخه یې یوه په حیا او پرده کې راغله او موسی ته یې وویل: پلار مې ته غوښتی یې، چې زمونږ د ګډو د اوبه کولو اجوره درکړی. کله چې موسی (د هغوی پلار ته) راغی او خپله کیسه یې ورته بیان کړه، هغه ورته وویل: غم مه کوه، د ظالمانو له منګولو راخلاص شوی یې.

قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ
ٱلۡأَمِينُ ﴿٢٦﴾

یوې لور یې وویل: ای پلاره! دی د خپل خدمتګار په حیث ونیسه ځکه ستا د خدمت لپاره یو پیاوړی او امانتدار شخص پکار دی( او دی د همدغو عالی صفاتو لرونکی دی).

قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَٰتَيۡنِ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ
حِجَجٖۖ فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ
عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

پلار یې (موسی ته) وویل: غواړم یوه لور مې تاته په نکاح درکړم، په دې شرط چې ته به اته کاله زما خدمت کوې، او که لس کاله دې پوره کړل نو دا به ستا له لوری( احسان) وی. او زه به په تا هیڅ سختی او مشقت نه راولم، که د الله تعالی رضا وی، زه به تاته نیک انسان ثابت شم.

قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿٢٨﴾

موسی وویل: همدا زما او ستا ترمنځ تړون دی، هره موده چې پوره کړم ظلم او اجبار به راباندې نه وی، او الله تعالی زما او ستا د خبرو څارونکی دی.

۞ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ
نَارًا قَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىٓ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ
جَذْوَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾

نو کله چې موسی ټاکلې موده پوره کړه او له خپلې کورنۍ سره( مصر) ته روان و، د (طور) له لوری يې د اور رڼا ولیده. خپلې کورنۍ ته يې وويل: لږ څه تم شئ( زه به لاړ شم) يا به ترې څه معلومات راوړم او يا به ترې د اور لمبه راوړم چې تاسو پرې تاوده شئ.

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ مِن شَٰطِئِ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ فِى ٱلْبُقْعَةِ ٱلْمُبَٰرَكَةِ
مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّىٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾

کله چې د اور خواته راغی، د درې له ښۍ لوری يې په يوه مبارک مقام کې، له يوې ونې غږ واورید چې: ای موسی يقيناً چې زه الله يم رب العالمين.

وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ
يَٰمُوسَىٰٓ أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلْءَامِنِينَ ﴿٣١﴾

او خپله امسا دې وغورځوه، چې يې ورته وکتل لکه د نری مار په شان چټک ځغاست.( موسی) ترې منډه کړه او شاته يې نه کتل.( غږ ورباندې وشو) ای موسی وړاندې راشه او ویرېږه مه. ته( د هغه له ضرره) په امن کې يې.

ٱسْلُكْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ
جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ ۖ فَذَٰنِكَ بُرْهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ
وَمَلَإِي۟هِۦٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾

لاس دې ګریوان ته ننه باسه، بې عيبه روغ رمتې به يې سپين ځليدونکی راوباسې. او دواړه لاسونه دې په سينه کيږده، شته ويره به دې ورکه شي. دغه دواړه معجزې( عصاء او يد بيضاء) د خپل رب له لوری، فرعون

او د هغه سردارانو او چارواکو ته چې تل يې ( د الله تعالی په مقابل کې) د بغاوت او سرکشی جنډه اوچته کړې، وړاندې کړه.

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾

(موسی) وويل: ای زما ربه! ما خو د هغوی يو تن وژلې، ويرېږم چې ما به هم ووژنی.

وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِيٓ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾

او ورور مې هارون چې ژبه يې له ما نه فصيحه او روانه ده، له ما سره يې د مرستيال په توګه وټاکه، چې زما خبرې تصديق کړی، ځکه ويرېږم چې( فرعون او فرعونيان) به ما دروغ وګڼی.

قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾

الله تعالی وفرمايل: ستا قوت او قدرت به ستا د ورور په وسيله پياوړی کړم، او تاسو دواړو ته به داسې قوت درکړم چې (فرعونيان) به تاسو ته هيڅ صدمه ونشی رسولی. زمونږ د معجزاتو په برکت به تاسو او ستاسو پيروان او تابعداران خامخا برلاسی ياست.

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾

نو کله چه موسی زمونږ روښانه آيتونه هغوی ته وروړل، فرعونيانو وويل: دا صرف په کودو او سحر جوړ شوی دروغجن اعمال دی، او مونږ دغه( د الله تعالی د توحيد، ستا د نبوت او د قيامت او حساب کتاب په نوم خبرې ) هيڅکله له خپلو پلرونو نيکونو څخه نه دی اوريدلی.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾

او موسی وويل: زما رب ښه پوهيږی چې زه د هغه رسول او يخپله ادعا کې رښتينی يم او د خپل رب له لوری مې هدايت (او احکام) خلکو ته راوړی نو ځکه به مې آخر انجام او عاقبت هم ښه وی، او بې له شکه

چې (د الله تعالی له قدرتونو او آیتونو څخه انکار کوونکی) ظالمان هیڅکله هم بریالی کیدی نشی( او په آخرت کې له ذلت او رسوایی سره مخامخ کیدونکی دی).

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ لِى يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾

او فرعون وویل: ای د هیواد اشرافو او سردارانو! زه ستاسو لپاره، د خپل ځان نه غیر، بل خدای نه پیژنم، نو ای هامانه زما لپاره په ختو اور بل کړه( خښتې پخې کړه) او یو لوړ هسک برج راته جوړ کړه چې وروخیژم او د موسی د رب په باب معلومات وکړم، البته چې دی ماته دروغجن ښکاری.

وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾

او( په دې توګه) فرعون او لښکریانو یې په ناحقه په ځمکه کې لویې او سرکشی وکړه او ګومان یې کاوه چې مونږ ته یې راګرځیدل نشته.

فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾

نو هغه مو د لښکریانو سره یو ځای ونیو او په دریاب مو لاهو کړل، نو( ای د هر عصر ظالم او مستکبره!) ژور فکر وکړه چې د ظالمانو انجام بالاخره څنګه و؟

وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾

( او لکه څنګه چې دوی په دنیا کې خلک ګمراهی او کفر ته رابلل) په آخرت کې به هم اور ته رابلونکی رهبران وی او هیڅ ډول مرسته به ورسره ونشی.

وَأَتۡبَعۡنَٰهُمۡ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ
ٱلۡمَقۡبُوحِينَ ٤٢

او هغوی مو په دې دنیا کې په لعنتونو بدرګه کړل او د قیامت په ورځ به هم د الله تعالی له رحمت نه ورټل شی.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ
ٱلۡأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٤٣

او( د نوح، هود ، صالح او لوط د قومونو له تباه کولو نه وروسته مو) موسی ته کتاب ورکړ چې د خلکو لپاره د بصیرت، هدایت او رحمت وسیله وه، ترڅو پند او عبرت واخلی.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلۡغَرۡبِيِّ إِذۡ قَضَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلۡأَمۡرَ وَمَا كُنتَ مِنَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ٤٤

( ای پیغمبره!) نه تا د ( طور) په لویدیځه غاړه کې حضور درلود، چې مونږ( د تورات په نزول سره) موسی ته د رسالت حکم ابلاغ کړ، او نه ته د دغه جریان په حاضرینو کې شامل وې( چې اوس دې خلکو ته خپل سترګو لیدلی حال بیانولی، بلکه د یوه امی شخصیت له خوا په تفصیل سره د دې تاریخی واقعاتو بیانول پخپله د عظیم الشأن قرآن او ستا د نبوت د حقانیت لپاره موثق او کوټلی شواهد دی).

وَلَٰكِنَّآ أَنشَأۡنَا قُرُونٗا فَتَطَاوَلَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡعُمُرُۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيٗا
فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ تَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا
مُرۡسِلِينَ ٤٥

او همدا مونږ يو چې( له موسى نه وروسته مو داسې ولسونه راپيدا كړل چې اوس ورباندې اوږدې پيړۍ تيرې شوى( او داستانونه يې زاړه او اختلافي شوى دى، چې غواړو اصل حقيقت يې تا ته د وحې په ترڅ كې څرګند كړو او ته يې خلكو ته واوروې) او ته د مدين په خلكو كې هم نه وې اوسيدلى( چې د هغوى داستان دې نن د مكې باغيانو ته اورولى، بلكه دا هم ستا د پيغمبرۍ لوى ثبوت دى چې د الهى وحې له مخې تاريخى واقعات خلكو ته اوروې).

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَـٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ
لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ
يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

او( اى پيغمبره!) ته هغه وخت د طور په دره كې نه وې، چې مونږ موسى ته غږ وكړ( انى انا الله رب العالمين) خو مونږ د خپل رحمت له مخې( د موسى كيسه) تاته د وحې په وسيله واوروله، تر څو يې هغو خلكو( عربى ولسونو او ټولو بشرى پرګنو) ته بيان كړې چې ستا نه وړاندې( د اسماعيل، شعيب او عيسى عليهم السلام نه وروسته) ورته هيڅ اخطار وركوونكى نه و راغلى، كيدى شى پند او عبرت واخلى.

وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا
لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَـٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

( د رسول الله صلى الله عليه وسلم بعثت او د مبارك قرآن نزول د بشرى پرګنو لپاره رحمت دى ځكه كه وړاندې له دې) دوى د خپلو ګناهونو له امله په عذاب اخته شوى وى، نو ويل به يې چې اى ربه ولې دې مونږ ته كوم پيغمبر را ونه ليږه چې ستا احكام مو منلى وى( او له همدې امله، الله تعالى د پيغمبر په بعثت سره په كافرانو حجت تمام كړ).

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ
مُوسَىٰٓۚ أَوَلَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ
تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾

خو كله چې زمونږ له لورى د(پيغمبر) په وسيله حق( مبارک قرآن) راغى( په انكار او اعتراض سره يې) وويل: دې( پيغمبر ته) ولې د موسى د معجزې په شان معجزې نه دى وركړې شوې؟( په ځواب كې ورته ويل كيږى چې) آيا كافرانو هغه وخت د موسى له معجزو انكار نه و كړى؟( موسى او هارون يې ساحران نه وو ګڼلى؟) او اوسنى كافران خو هم وايى چې: دا( تورات او قرآن) دواړه جادو دى چه د يو بل تائيد او ملاتړ كوى. او وايى چې مونږ له دواړو منكر يو.

قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبٖ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمَآ أَتَّبِعۡهُ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾

ورته ووايه كه رښتينې ياست نو د الله تعالى له لورى داسې كتاب راوړئ چې له دې دواړو( تورات او قرآن) نه زيات هدايت كوونكى وى، تر څو زه د هغه پيروى وكړم.

فَإِن لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ
مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

نو كه يې ستا خبره عملى نه كړه،پوه شه چې دوى خپلو نفسى خواهشاتو په مخه اخستى، او څوک دى له هغه نه بل لوى ګمراه( بلكه ترې نشته) چې د الله تعالى د هدايت په ځاى، يوازې د خپلو نفسى خواهشاتو پيروى كوى، الله تعالى هيڅكله هم( دغه ډول) ظالمان د هدايت په لاره نه سموى.

۞ وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ ٱلۡقَوۡلَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾

مونږ دا قرآن په پرله پسې او تدريجى توګه نازل كړى تر څو ترې خلک پند او عبرت واخلى.

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ٥٢

(جاهل مشرکان نه په پخوانیو آسمانی کتابونو ایمان لری او نه په قرآن، خو د دوی په مقابل کې، منصف او حقیقی) اهل کتاب شته( چې په تورات او انجیل له ایمان سره سره) په قرآن هم ایمان لری.

وَإِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلِهِۦ مُسۡلِمِينَ ٥٣

او کله چې هغوی ته( قرآن) اورول کیږی، وایی: مونږ وربانديې ایمان راوړی، بیشکه چې دا زمونږ د رب له خوا حق دی او مونږ لا د هغه د نزول نه وړاندې( د تورات او انجیل د لاربښوونو او وړاندوینو په اساس) د هغه حقانیت ته غاړه ایښې ده.

أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٥٤

دغو( بختورو خلکو ) ته به دوه چنده اجر او ثواب ورکړی کیږی( یو اجر یې په پخوانیو پیغمبرانو او آسمانی کتابونو د ایمان، او بل یې په مبارک قرآن او محمد صلی الله علیه وسلم باندې د ټینګ ایمان په بدل کې. د دوی ښه صفات دا دی چې په خپل ایمان او عقیده ټینګ ولاړ او) صبر کوونکی دی، د هر بد او ناوړه عمل په مقابل کې یې غبرګون نیک او مسالمت آمیز وی، او زمونږ له ورکړې شتمنی څخه صدقې او خیراتونه هم ورکوی.

وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ أَعۡرَضُواْ عَنۡهُ وَقَالُواْ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ لَا نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ ٥٥

او کله چې عبث او فحش خبرې واوری، مخ ترې ګرځوی، او ورته وایی: زمونږ کړه زمونږ او ستاسو کړه ستاسو.( زمونږ خپله لار او ستاسو خپله لار) په تاسو دې( د متارکې او پریکړې) سلام وی. مونږ له ناپوهانو سره ناسته ولاړه نه کوو.

إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ٥٦

( ای پیغمبره!) هغه چې ته يې( ايمان راوړلو ته ليوال يې) هدايت ورته نشې کولی، بلکه څوک چې د الله تعالی خوښ وی، د ايمان او هدايت په لاره يې سموی، او د هدايت وړ او مستحقين هم ډير ښه پيژنی.

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ
حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٧

او( مشرکان او منافقان) وايی: که مونږ ستا سره د هدايت په لاره لاړ شو،(عرب سرداران) به مو له خپلې خاورې( مکې معظمې) نه وشړی.آيا مونږ دوی ته له امنيت نه ډک حرم نه دی ورکړی( چې د امنيت سره سره پکې ورته د کال په ټولو فصلونو کې) زمونږ د رزق هر ډول ميوې او زراعتی محصولات راروان دی، خو د دوی زياتره کسان( واقعيتونه) نشی درک کولی.

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ
لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥٨

او مونږ ډير داسې ښارونه تباه کړی چې (اوسيدونکې يې) د نعمتونو د ډيروالی له امله په مستۍ او سرکشۍ کې ډوب وو، دا د هغوی کنډواله شوی کورونه دی، چې دوی پکې څه لږه شان موده اوسيدلی خو بالاخره مونږ ته په ميراث پاتې دی.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبۡعَثَ فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ
ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا
ظَٰلِمُونَ ٥٩

او ستا رب هيڅکله د ښارونو( او د هغو د اوسيدونکو) تباه کول نه غواړی، تر هغه چې لومړی ورته په کوم لوی( مرکزی) ښار کې پيغمبر مبعوث کړی، او اوسيدونکو ته يې زمونږ آيتونه او احکام واوروی( او د کفر او شرک له ناوړو عواقبو او د ايمان له ښيگڼو يې خبر کړی) . او مونږ هيڅکله د ښارونو تباه کوونکی نه يو بلکه د هغو اوسيدونکی پخپله ظالمان دی.

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ
وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٠﴾

څه چې تاسو ته درکړی شوی، د دنیوی ژوند متاع او ښایست دی، خو کوم( نعمتونه) چې له الله تعالی سره دی، تر ټولو غوره او تلپاتې دی، آیا له پوهې نه کار نه اخلئ؟

أَفَمَن وَعَدۡنَٰهُ وَعۡدًا حَسَنٗا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعۡنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ
ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ هُوَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ﴿٦١﴾

نو څوک چې( د جنت) نیکه وعده مو ورسره کړې، او هغه ورته خامخا رسیدونکی دی، د هغه چا په شان دی چې یوازې دنیوی ډول ډال مو ورته ورکړی، او بیا به د قیامت په ورځ ( د حساب کتاب لپاره) راغوښتل کیږی؟

وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٦٢﴾

او هغه ورځ( رایاده کړه) چې الله تعالی به دوی ته غږ وکړی او ورته به وفرمایي: چیرې دی ستاسو هغه باطل خدایان چې زما سره مو په( ربوبیت) کې شریک گڼل؟

قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغۡوَيۡنَآ أَغۡوَيۡنَٰهُمۡ كَمَا غَوَيۡنَاۖ
تَبَرَّأۡنَآ إِلَيۡكَۖ مَا كَانُوٓاْ إِيَّانَا يَعۡبُدُونَ ﴿٦٣﴾

( د شرک او کفر سردمداران به چې خلک خپلې بندگی او اطاعت ته رابلی) او په الهی عذاب محکوم شوی دی، ووایی: ای زمونږ ربه! دا زمونږ (پیروان) دی، چې مونږ بې لارې کړی، لکه څنگه چې مونږ( پخپله خوښه او اختیار) بې لارې شوی یو، دوی مو هم( د دوی په خوښه او اختیار) د گمراهی کندې ته غورځولی، او( اوس) ستا په حضور کې له هغوی نه خپله بیزاری او نفرت اعلانوو. هغوی زمونږ عبادت او پرستش نه دی کړی (بلکه د خپلو نفسی خواهشاتو په لومو کې ښتی وو).

وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ لَوۡ أَنَّهُمۡ
كَانُواْ يَهۡتَدُونَ ﴿٦٤﴾

او پیروانو ته به یې وویل شي: دعا وکړئ خپلو هغو باطلو خدایانو ته( چې تاسو یې عبادت کاوه)، نو هغوی ته به سوال زاری وکړی خو هیڅ ځواب به تر لاسه نه کړی، عذاب به( په رښو سترگو) وینی او ارمان به کوی چې کاش د هدایت په لاره روان وی.

وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦٥

او هغه ورځ چې الله تعالی هغوی ته غږ وکړي او پوښتنه ترې وکړي چې د پيغمبرانو د دعوت په مقابل کې ستاسو غبرګون څه و؟

فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ٦٦

نو په دغه ورځ به ترې( د هيبت او اضطراب له امله) ټولې خبرې ورکې شی( او د نجات ټولې لارې به ورباندې وتړل شی) بلکه يو له بله به د  پوښتنې کولو قوت هم له لاسه ورکړي.

فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُفۡلِحِينَ ٦٧

خو هغه کسان چې( له کفر او ګناه نه يې) توبه ويستې او نيک عملونه يې هم  کړي وي، اميد دی چې نجات پيدا کړي.

وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ
ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٨

او ستا رب چې د هر شی اراده وکړي( په هر شکل او صورت يې چې خوښه وي) پيدا کوی يې، او هر چا ته چې وغواړي( د پيغمبرۍ، رهبرۍ او هر مقام لپاره يې چې لازم وګڼي) غوره کوی يې، هيڅا ته( د الله تعالی د ارادې د بدلولو) اختيار نشته( ځکه هغه د خپلو اقداماتو په راز او حکمت ډير ښه پوهيږي). پاک او منزه دی د الله تعالی ذات له هغو شريکانو نه، چې دوی يې ورته منسوبوی.

وَرَبُّكَ يَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٦٩

او الله تعالی په هغو خبرو( او دسيسو) ډير ښه خبر دی چې ( کافران يې د رسول الله او اسلام په ضد) پخپلو سينو( زړونو) کې پټې ساتی او که په ډاګه او جهر يې بيانوی.

وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأُولَىٰ وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُ ٱلۡحُكۡمُ
وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٧٠

او همدا د الله تعالی ذات دی، چې له هغه نه غیر، بل خدای نشته، د دنیا او آخرت ټولې ستاینې د هغه لپاره ځانګړې دی، او حقیقی واکمنی هم د هغه ده، او تاسو ټول بالاخره د هغه حضور ته ورتلونکی یاست.

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلَّيۡلَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ
غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِضِيَآءٍۚ أَفَلَا تَسۡمَعُونَ ٧١

ووایه ښه وګوری، که الله تعالی دربانديې شپه تر قیامته اوږده او تلپاتې کړی( لمر راختلو ته پری نه ږدی، او یا یې رڼا او تودوخه له منځه یوسی) بل کوم خدای شته چې تاسو ته د ژوند د چارو لپاره روښنایی راولی؟ نو آیا (خبره د زړه په غوږو) نه اوری( او الهی دعوت ته لبیک نه وایاست)؟

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِلَيۡلٖ تَسۡكُنُونَ فِيهِۚ أَفَلَا
تُبۡصِرُونَ ٧٢

ووایه ښه وګوری که الله تعالی دربانديې ورځ تر قیامته اوږده او دایمی کړی( او لمر ته د پریوتو اوغروب اجازه ورنه کړی) بل داسې کوم خدای شته چې تاسو ته د آرام او استراحت لپاره شپه راولی؟ نو آیا( د هغه د قدرت نښې) نه وینئ؟

وَمِن رَّحۡمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن
فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٧٣

او دا د ( الله تعالی) خاص رحمت دی چې ستاسو لپاره یې په شپه او ورځ کې( جلا جلا ګټې او خاصیتونه) پیدا کړی، ترڅو د شپې آرام ویده شئ، او د ( ورځې) د هغه د فضل( رزق) لپاره په هلو ځلو بوخت شئ، او( د نعمتونو) شکر یې په ځای کړئ.

وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ
تَزۡعُمُونَ ٧٤

او هغه ورځ رایاده کړه چې (الله تعالی به مشرکانو ته) غږ وکړی: چیرې دی ستاسو هغه خدایان چې زما سره مو( په ربوبیت کې) شریک ګڼل؟

وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوا أَنَّ
الْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾

او له هر امت نه به( پیغمبر) د ګواه په حیث راپورته کړو( او د هغه په حضور کې به يې د امت مشرکينو ته) ووايو چې( اوس د شرک په حقانيت باندې) خپل دليل وړاندې کړئ. نو هغوی ته به ثابته شي چې بې له شکه حق( توحيد) د الله تعالی لپاره ځانګړی دی، او ټول هغه باطل خدايان ورک دي چې دوی په دروغو او ناحقه( له الله تعالی سره) شريکان ګڼل.

۞ إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ
مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ
اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾

قارون د موسی له قوم څخه و، چې په هغوی باندې يې( د فرعون په حکم) ظلمونه کول او مونږ هغه ته داسې خزانې ورکړې وې چې کلی ګانې يې، د يوې پياوړې ډلې په اوږو هم درنې وې. کله چې يې خپل قوم ورته وويل: د غرور او تکبر خوشحالی مه کوه، ځکه الله تعالی مست او مغرور متکبرين نه خوښوی.

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ
مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي
الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

په هغو( نعمتونو) چې الله تعالی درکړی، د خپلې اخروی( نيکمرغۍ) لارې ولټوه، لکه څنګه چې الله تعالی ستا سره نيکی کړې، ته هم( د هغه له مخلوق سره) نيکی او ښيګڼې کوه، او هيڅکله هم په ځمکه کې د فساد او ګډوډۍ لپاره قدم مه پورته کوه، بيشکه چې الله تعالی تخريب کاران او مفسدين نه خوښوی.

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ مِن قَبۡلِهِۦ
مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن
ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٧٨﴾

قارون وویل: دغه ټول مال او شتمنی زما د پوهې او کمال په برکت ماته راکړی شوې. آیا دی نه پوهیده چې الله تعالی له ده نه وړاندې ډیر داسې کسان تباه کړی چې له ده نه زیات پیاوړی او شتمن وو؟ او له هغو مجرمینو سره به ( چې جرم یې ثابت وی) هیڅ ډول تحقیقات ونشی.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ فِي زِينَتِهِۦۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا
يَٰلَيۡتَ لَنَا مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٖ ﴿٧٩﴾

( یوه ورځ چې قارون) پخپل شوکت او دبدبه کې د خپل قوم په وړاندې راښکاره شو، د دنیوی هوسایی او نیکمرغی هیله منو او خوښوونکو وویل: کاش مونږ ته هم د قارون په شان شتمنی راکړی شوی وای، ریښتیا چې هغه ته( د دنیوی امتیازاتو) لویه برخه ورکړی شوې ده.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَيۡلَكُمۡ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّمَنۡ ءَامَنَ
وَعَمِلَ صَٰلِحٗاۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾

او د پوهې او معرفت خاوندانو وویل: افسوس دی په تاسو. تر ټولو غوره شتمنی خو هغه ده، چې الله تعالی د نیک عمله مؤمنانو لپاره ساتلې، او یوازې صبر کوونکی(مؤمنان) یې مستحق دی( هغوی چې دنیوی لذتونو ته یې شا کړې او د اخروی نیکمرغۍ لپاره هیله من دی).

فَخَسَفۡنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلۡأَرۡضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٖ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ
ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾

نو( قارون) مو د هغه له ارګاه او بارګاه سره یوځای په داسې حال کې په ځمکه ورښخ کړ چې د الله تعالی له ( فرمان) نه یې د نجات لپاره، نه کوم مرستندوی وموند او نه پخپله د ځان د دفاع جوګه شو.

وَأَصْبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ
يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا
لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾

او سبا له، ټولو هغو کسانو چې پرون يې د قارون د شان شوکت د لرلو ارزو لرله( توبې ويستلې) او ويل يې: افسوس (مونږ خو دا حقيقت هير کړی و چې) الله تعالی پخپلو بندګانو کې هر چاته چې وغواړی پراخه روزی او هوسايی وربښی او هر چاته چې وغواړی (ژوند او روزی يې) ورباندې تنګوی، او که الله تعالی په مونږ رحم نه وی کړی، نو مونږ به يې( د قارون د مقام او منزلت د ارزو په جرم له هغه سره يوځای) د ځمکې په تل ورننويستی وی. افسوس( مونږ هير کړی) چې کافران د نجات او خلاصون لاره نشی موندلی.

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ
وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

هغه د آخرت نيکمرغی او سوکالی مو د هغو کسانو لپاره ساتلې چې نه په ځمکه کې خپله لويی او برتری غواړی او نه د شر او فساد په لټه کې دی، او بيشکه چې نيک عاقبت او انجام يوازې د پرهيزګارانو په برخه دی.

مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى ٱلَّذِينَ
عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾

څوک چې د الله تعالی حضور ته له يوې نيکۍ سره راشی، تر هغې به لا ډير ښه اجر او ثواب تر لاسه کړی، او څوک چې بدی راوړی، نو يوازې د هماغې بدۍ سزا به وينی( او زياتی به ورسره نه کيږی).

=====================

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن
جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾

بې له شکه، هغه ذات چې د قرآن( د احکامو ابلاغ یې ) په تا فرض کړی، هرومرو به تا(  په پوره عزت او وقار)  د وعدې ځای( مکې معظمې) ته راستون کړی.( ای پیغمبره دوی ته)  ووایه: زما رب هغه کسان ډیر ښه پیژنی چې هدایت یې خپل کړی، او هغه هم پیژنی چې په ښکاره ګمراهی کې روان دی.

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ
فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

او( ای پیغمبره) ستا په خوا خاطر کې هم نه ګرځیده چې تاته به( آسمانی) کتا ب درکړی کیږی، خو دا دربانده د خپل رب یوه ځانګړی لورینه ده( چې د نبوت په مقام یې سرلوړی کړی او عظیم الشأن قرآن یې درته نازل کړ) نو( په دینی چارو کې) هیڅکله د کافرانو مرسته مه کوه.

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ
وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾

او چه د الله تعالی آیتونه درته نازل شوی، نو پام چې( لجوج کافران دې په چل او فریب) د الهی احکامو له ابلاغ نه، را و نه ګرځوی. ته د خپل رب لوری( توحید او عبادت)  ته د خلکو د رابللو ستر رسالت ته  دوام ورکړه، (او د دین  په چارو او د الهی احکامو په تعمیل کې هیڅکله  د خپل  مشرک قوم خاطر او رعایت مه کوه) او خپل ځان په هغوی کې  مه شمیره.

وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا
وَجْهَهُۥ ۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

او( ای انسانی پرګنو!) د الله تعالی په مقابل کې، د بل خدای عبادت و نه کړی،  له الله تعالی نه غیر بل خدای نشته، د الله تعالی له ذات نه غیر، بل هر شی  معدوم او فنا کیدونکی دی. د( هستی د جهان) مطلقه واکمنی الله تعالی ته ځانګړې ده او بلاخره ( د مکافات او مجازات د اخستلو لپاره) ستاسو ټولو د ورتګ وروستی مرجع هم د هغه حضور دی.

« تمت سورة القصص بفضل الله و توفیقه»

======================